

د ورمونټ روغتیایي لاسرسي څانګه

د روغتیایي پاملرنې پروګرام

لاربنود کتاب

GreenMountainCare
A HEALTHIER STATE OF LIVING

فهرست

فهرست 2
خپل د ګرین ماونټین د روغتیايي پاملرنې پروګرام ته ښه راغلاست 4
د پروګرام نومونه 4
ستاسو د ګرین ماونټن د روغتیايي پاملرنې کارټ 4
روغتیايي پاملرنه او راجع کول 5
د لومړنۍ پاملرنې چمتو کوونکی (PCP)..... 5
د رسمي وخت وروسته د پاملرنې خدمتونه 5
متخصصین 5
که ستاسو ډاکټر د ګرین ماونټي روغتیايي پاملرنې خدمتونه نه مني 5
منظم معاینات 6
روغتیايي پاملرنه او ډاکټر ډیناسور..... 6
ستاسو په برنامه کې کوم خدمتونه پوښل شوي (هغه خدمتونه چې تاسو یې ترلاسه کولی شئ) 6
د روغتیايي خدمتونو لپاره تادیات 7
قسطونه..... 7
EPSDT 7
ستاسو په پروګرام کې کوم خدمتونه نه دي پوښل شوي 8
په روغتیايي پاملرنې او ډاکټر ډیناسور پروګرامونو کې د پوښل شویو خدمتونو ترلاسه کول..... 9
استثناوي 9
مخکینۍ اجازه..... 9
دوامداره طبي تجهیزات (DME) 9
درمل او مخکینۍ اجازه 11
بېړني حالات 11
تاسو باید څه وخت تادیه ورکړئ..... 12
که چیرې تاسو یو بیل ترلاسه کړئ..... 12
که چیرې تاسو بله بېمه لرئ 12
ستاسو حقوق او مسؤولیتونه..... 13
تاسو حق لرئ چې..... 13
د ژوندانه توصیې او د پرمختګ لارښوونې..... 13
د بدن د غړو ورکول..... 15
ستاسو د لومړنۍ پاملرنې خدماتي چارو د چمتو کوونکي (PCP) سره د معلوماتو شریکول..... 15
د محرمیت پالیسۍ خبرتیا 15
د کیفیت تضمین..... 15
کله چې تاسو زموږ د شوي پرېکړې سره موافق نه یاست، څه باید وکړئ 16
شکایتونه 20
ایا مرستې ته اړتیا لرئ؟..... 20
د ورمونټ روغتیايي اتصال او د ګرین مونټین د پاملرنې اړوند د پیرودونکو خدماتي مرکز 20
د روغتیايي پاملرنې چارو مدافع وکیل (HCA) دفتر 21

اضافي معلومات 21
نور پروګرامونه 22
د لویانو لپاره ورځني خدمتونه 22
د ملګرتیا خدماتي پروګرام 22
د ماشومانو د ادغام خدمتونه (CIS) 22
د ماشومانو د ادغام خدمتونه - لومړنۍ مداخله (CIS-EI) 22
د ماشومانو د شخصي پاملرنې خدمتونه 23
هغه ماشومان چې ځانګړو روغتیایي خدمتونو (CSHN) کلینیکونو ته اړتیا لري 23
د روغتیایي پاملرنې لپاره انتخابونه 23
د پرمختیایي معلولیت خدمتونه 23
د مالي همکارۍ پروګرام 23
انعطافي کورنی تمویل 23
د عالي ټکنالوژۍ په مټ روغتیایي پاملرنه 24
د کور جوړوني خدمتونه 24
ځانګړي کلینیکي خدمتونه 24
ځانګړي خدمتونه 24
په ورمونټ کې د اوریدلو د لومړني کشف او مداخلې پروګرام 24
رواني روغتیا 25
د لویانو لپاره له روغتون بهر خدمتونه 25
د ماشومانو، تنکي ځوانانو او کورنۍ لپاره خدمتونه 25
ټولنیزه بیا رغونه او درملنه 25
بېړني خدمتونه 25
تروما ځپلي ذهني پروګرام 25
د ښځو، تې خورو ماشومانو او کوچنیانو پروګرام (WIC) 25
پاملرنه! که تاسو د ژبې په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ 1-800-250-8427 شمېرې ته زنګ ووهئ 26

2022

خپل د ورمونټ روغتیایي پاملرنې پروګرام ته ښه راغلاست

د دې لاسي کتاب په لومړۍ برخه کې د عمومي پروګرام په اړه معلومات دي چې زموږ د روغتیایي پاملرنې پر ټولو پروګرامونو باندې تطبیق کیږي. په وروستنۍ برخه کې یې د هغه پروګرام په اړه معلومات دي چې تاسو ورسره یو ځای شوي یاست.
که تاسو نه پوهیږئ چې تاسو په کوم پروګرام کې یاست، یا که تاسو کومه پوښتنه لرئ، د ورمونټ روغتیایي اتصال او ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې پروګرام د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ. تاسو کولای شئ له دوشنبې څخه تر جمعې پورې د سهار له 8:00 بجو څخه د ماسپښین تر 5:00 پورې زنګ ووهئ (د رخصتۍ په ورځو کې مرکز تړلی وي). دا شمېره ستاسو د ګرین ماونټین روغتیایي خدمتونو د کارت په شاتنۍ برخه کې هم لیکل شوې ده.

د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې پروګرام وړاندیز کوونکي اشخاص دې ته هڅوي چې ټولو غړو ته کیفیت لرونکي، تر پوښښ لاندې اړین طبي خدمتونه وړاندې کړي، او ډاکټران دې ته نه هڅوي چې تر پوښښ لاندې اړین طبي خدمتونه محدود، رد یا بند کړي. د ګرین ماونټین پاملرنې د فدرالي ادارې لخوا د منع شویو شرایطو پر اساس تبعیضي چلند ونه کړي. د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې پروګرامونو اړوند نور معلومات 1-800-250-8427 شمېرې ته د زنګ وهلو له لارې ترلاسه کولای شئ.

که تاسو غواړئ خپل د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې پوښښ لغوه کړئ، د ورمونټ روغتیایي اتصال او د ګرین ماونټن روغتیایي پاملرنې د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ. که غواړئ په لیکلي بڼه د خپل خدماتي پوښښ څخه ځان وباسئ، نو مهرباني وکړئ خپل غوښتنلیک دغه ویبپاڼې ته واستوئ:

DCF/Economic Services Division
ADPC
103 South Main Street
Waterbury, VT 05671-1500

د پروګرام نومونه

روغتیایي پاملرنې خدماتي پروګرام د ماشومانو، والدینو، سرپرستانو، لویانو، معیوبینو لپاره د روغتیایي پاملرنې یوه برنامه ده چې د یاد پروګرام لاربښوونې پوره کوي او پرته له ماشومانو څخه ځینې لویان چې د وړتیا ځینې شرایط پوره کوي خدمتونه وړاندې کوي. د اوږدې مودې روغتیایي پاملرنې خدمتونه د هغو خلکو لپاره شته چې طبي معیارونه یې بشپړ کړي وي (لکه څنګه چې د معلولیت، زړو اشخاصو او د خپلواک ژوند چارو د ریاست) او د عاید او سرچینو د لاربښوونې څانګې لخوا ټاکل شوي وي.

ډاکټر ډیناسار د ماشومانو، د 19 کالو څخه کم عمر لرونکو تنکي ځوانانو او میندوارو میرمنو لپاره د ټیټ لګښت یا وړیا د روغتیایي پاملرنې خدمتونه چمتو کوي.

ستاسو ګرین مونټین د روغتیایي پاملرنې کارټ

ستاسو پېژندپاڼه به ستاسو کور ته لیږل کیږي. مهرباني وکړئ د روغتیایي پاملرنې خدمتونو د غوښتنې پر مهال دا کارټ ښکاره کړئ. که تاسو د دې لاربښود کتاب د ترلاسه کولو څخه په یوه میاشت کې خپل نوی آی ډي کارټ ترلاسه نکړ، یا تاسو خپل کارت له ورک کړی وي، نو د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ او د نوي کارت غوښتنه وکړئ. که تاسو د روغتیایي پاملرنې اړوند بله بیمه لرئ، خپل د خدماتي چارو چمتو کوونکي ته ستاسو د بیمې دواړه آی ډي کارټونه ښکاره کړئ.

روغتیایي پاملرنه او ارجاعات

د لومړنۍ پاملرنې د خدماتي چارو چمتو کوونکی (PCP)

د "لومړني" کلمه معنی لومړی. ستاسو PCP هغه څوک دی چې د روغتیایي پاملرنې پر مهال تاسو لومړی هغه ته زنګ وهئ. ستاسو PCP به تاسو ته ډیری روغتیایي پاملرنې خدمتونه چمتو کړي او که تاسو د ځانګړي پاملرنې مهالوېش ته اړتیا ولرئ، نو دوی به ستاسو سره په دې برخه کې ګډ کار وکړي.

که ستاسو PCP تاسو ته نوی وي، له خپل زاړه PCP څخه وغواړئ چې خپل طبي ریکارډونه نوي PCP ته واستوي. خپل نوي PCP ته زنګ ووهئ تر څو په دې اړه خبر ورکړئ چې طبي ریکارډونه راځي. ستاسو د PCP لپاره دا مهمه ده چې ستاسو طبي ریکارډونه له ځان سره ولري.

له رسمي وخت څخه وروسته د روغتیایي پاملرنې خدمتونه

هڅه وکړئ د منظم رسمي دفتري وختونو په جریان کې د طبي ستونزو لپاره د خپل PCP وګورئ. که تاسو د روغتیایي پاملرنې اړوند بیړنۍ ستونزه لرئ او په ورته وخت کې ستاسو د لومړنۍ پاملرنې د خدماتي چارو چمتو کوونکي (PCP) دفتر تړلی وي، تاسو کولای شئ د خپل PCP دفتر ته زنګ ووهئ او د مرستې یا مشورې غوښتنه وکړئ.

ستاسو د PCP دفتر به ستاسو سره د مرستې لپاره 24 ساعته او په اونۍ کې اووه ورځې موجود وي. مهرباني وکړئ د بیړني حالت او بیړنۍ پاملرنې په اړه د نورو معلوماتو لپاره د دې لارښود کتاب ځانګړې برخه وګورئ.

متخصصین

یو متخصص هغه شخص دی چې اضافي روزنه لري او د روغتیایي پاملرنې پر بېلابېلو ستونزو باندې کار کوي. د بېلګه په توګه، که تاسو د زړه ستونزې لرئ، ستاسو PCP به ستاسو سره مرسته وکړي چې د زړه د متخصص سره لیدنه وکړئ. دې ته "راجع کول" ویل کیږي. په ډیرو مواردو کې، تاسو باید مخکې له دې چې متخصص ته لاړ شئ د خپل PCP وګورئ. ستاسو PCP کولای شي تاسو سره په دې پرېکړه کې مرسته وکړي چې که تاسو یو متخصص ته اړتیا لرئ نو باید د کوم چا سره وګورئ. مخکې له دې چې یو داسې متخصص ته لاړ شئ چې د روغتیایي پاملرنې د خدماتي چارو چمتو کوونکی نه وي، نو تاسو باید لومړی د خپل PCP څخه د راجع کولو یوه اجازه ترلاسه کړئ. که تاسو مخکې له دې چې د یو متخصص سره ووینئ د خپل PCP څخه د راجع کولو اجازه ترلاسه نه کړئ، په دې صورت کې تاسو باید د ملاقات لپاره پیسې ورکړئ.

که ستاسو ډاکټر د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې خدمتونه ونه مني

که تاسو اوس د خدماتي چارو داسې وړاندیز کوونکی وینئ چې ستاسو په برنامه کې نه وي، نو تاسو کولای شئ له پروګرام سره د یو ځای کیدو وروسته تر 60 ورځو پورې د خدماتي چارو هماغه چمتو کوونکي ته لاړ شئ. دا یوازې په هغه صورت کې پېښېدای شي چې:

- تاسو د ژوند ګواښونکي ناروغۍ ولرئ، یا
- تاسو یوه داسې ناروغي ولرئ چې بدن مو معیوب یا تخریبوي، یا
- تاسو د دریو میاشتو څخه ډېر وخت لپاره میندواره یاست، او
- د خدمتونو وړاندې کوونکی پر دې موافق وي چې د پروګرام نرخونه به مني او د پروګرام مقررات به تعقیبوي.

د 60 ورځو د تمدید د تنظیمولو لپاره، یا زموږ په برنامو کې بل چاته د معرفي کولو او وړاندیز کوونکو په اړه د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکي ونیسئ. تاسو کولی شئ vtmedicaid.com ته مراجعه وکړئ او هلته پر Provider Look-up باندی کلیک وکړئ، تر څو مالومه کړئ چې د خدماتي چارو کوم چمتو کوونکي د ګرین ماونټین د روغتیایي پاملرنې خدمتونه مني. د "شبکې څخه بهر" لیست شوي وړاندیز کوونکي ممکن د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې بیمه ونه مني.

هر هغه چمتو کوونکی چې تاسو یې وینئ باید د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې خدمتونه ومني که دوی داسې ونه کړي، دوی به ستاسو د درملنې لپاره د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې لخوا تادیه ورنه کړي او تاسو به د خدمتونو لپاره پیسې ورکړئ. که تاسو نورې روغتیایي بیمې لرئ چې ممکن د درملنې اړوند ټولې یا یوې برخې لپاره پیسې ورکوي، ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی باید د روغتیایي بیمې دواړه پلانونه ومني.

منظم معاینات

ښه خبره دا ده چې تل د ناروغۍ د پېښېدو وړاندې د روغتیایي ستونزو مخه ونیسئ. د دې چارې د ترسره کولو یوه لاره دا ده چې تاسو د PCP سره په منظم ډول معاینه وکړئ. ستاسو ډاکټر کولای شي ستاسو سره مرسته وکړي او دا پریکړه وکړي چې څو ځلې باید معاینه وکړئ. د خپل لومړنۍ پاملرنې اړوند د خدماتي چارو چمتو کوونکي څخه د ځانګړې روغتیا پاملرنې د تشخیص او هغه معایناتو په اړه پوښتنه وکړئ چې تاسو یې باید د خپل عمر او انفرادي خطري فکتورونو پر اساس ولرئ.

د ورمونټ روغتیایي څانګه د معایناتو په اړه د مشورې ورکولو خدمتونه لري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د ورمونټ روغتیایي څانګې ته په 1-800-464-4343 شمېره زنګ ووهئ، یا www.healthvermont.gov ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ.

Medicaid and Dr. Dynasaur

ستاسو په پروګرام کې کوم خدمتونه پوښل شوي (هغه خدمتونه چې تاسو یې ترلاسه کولای شئ)

د ګرین ماونټین د روغتیایي پاملرنې ډېرې برنامې د ځینې مقرراتو او محدودیتونو سره یوځای د خدماتي چارو د چمتو کوونکي او متخصصینو سره د لیدنې، د روغتون اړوند روغتیایي پاملرنې، نسخې او ډېرې نور خدمتونه تر خپل پوښښ لاندې راولي. تاسو باید د یو متخصص سره د خدمتونو لپاره د ملاقات کولو وړاندې لومړی خپل د لومړنۍ پاملرنې د خدماتي چارو د چمتو کوونکي سره وګورئ. ستاسو چمتو کوونکی مخکې له دې چې خدمتونه وړاندې کړي، باید د خدماتي چارو د خدمتونو سره اړیکه ونیسي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو لپاره دغه خدمتونه پوښل شوي دي. که تاسو د داسې خدمتونو په اړه پوښتنه لرئ چې لیست شوي نه دي، نو د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکې ونیسئ.

- پرته له دې چې روغتون ته داخل شئ، د روغتون بهر بستري درملنه تاسو؛
- بېړني خدمتونه؛
- په روغتون کې بستري کېدل (لکه د جراحي عملیاتو او د شپې تېرولو لپاره)؛
- میندواری، زیږون، او د نوي زیږېدلي ماشوم پاملرنه (د زیږون وړاندې او وروسته دواړه حالات)؛
- د رواني روغتیا درملنې په شمول د رواني روغتیا او د مخدره توکو استعمال له امله رامینځ ته شوي اختلال خدمتونه (په دې کې مشوره ورکول او رواني درملنه هم شامله ده)؛
- نسخې درمل؛
- د بیارغوني او جوړېدلو خدمتونه او وسایل (هغه خدمتونه او وسایل چې د ټپیانو، معیوبینو، یا اوږدمهاله طبي شرایطو سره یو ځای د رواني او فزیکي مهارتونو ترلاسه کولو یا بیرته رغېدلو په چارو کې مرسته کوي)؛

- لابراتواري خدمتونه؛
- د ناروغۍ د مخنيوي او هوساينې خدمتونه او د اوږدې ناروغۍ مديريت؛
- د غاښونو، سترګو، او غوږونو اړوند خدمتونه؛
- د ماشومانو خدمتونه؛ او
- غير عاجل طبي ترانسپورټ.

د روغتيايي پاملرنې لپاره د پيسو تاديات

- د روغتيايي پاملرنې پروګرام کې شامل غړی به د غاښونو له ډاکټر سره د هر ملاقات لپاره 3 ډالر ورکوي.
- د روغتيايي پاملرنې پروګرام غړي د نسخې لپاره1ډالر، 2 ډالر يا 3 ډالر ورکوي.
- د روغتيايي پاملرنې د پيرودونکو د روغتون بهر طبي ملاقاتونو لپاره هره ورځ 3 ډالر تاديه کوي.

ځينې خدمتونه چې د روغتون څخه بهر په دفتر کې وړاندې کيږي د روغتون بهر ناروغانو خدمتونه دي. که چيرې يو خدمت د روغتون بهر ناروغانو د طبي ملاقات په توګه حساب شي، نو په اړه يې د خپل خدماتي چارو چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ. که داسې وي، نو تاسو به په مشترک ډول 3 ډالر تاديه کوئ.

ډيرې ماشومان، ميندواره ميرمنې، او په تشخيص ځايونو کې خلک موجود کسان په مشترک ډول د پيسو تاديه کولو ته اړتيا نه لري. هغه خلک چې د سينې او رحم د سرطان درملنې په برنامه کې شموليت لري اړتيا نه لري چې په مشترک ډول تاديه ورکړي.

تاسو اړتيا نه لرئ د لاندې ذکر شويو خدمتونو لپاره مشترکه تاديه ورکړئ:

- د ناروغۍ د مخنيوي خدمتونه
- د کورنۍ د پلان چمتو کولو خدمتونه او تجهيزات
- بيړني خدمتونه
- د جنسي تيري اړوند خدمتونه

قسطونه

د ډاکټر ډيناسور پروګرام کې داخل ځينې غړي ممکن د مياشتنې قسط تاديه کولو ته اړتيا ولري. د کورنۍ قسطونو اندازه د کورنۍ په عايد، اندازې، او د روغتيايي بيمې حالت پورې اړه لري. کله چې تاسو خپل لومړی بيل ترلاسه کړئ، نو دا مهمه ده چې سمدستي يې بايد تاديه کړئ تر څو ستاسو خدماتي پوښښ پيل شي. پر خپل وخت پيسې ورکړئ تر څو خدماتي پوښښ له لاسه ورنه کړي. که تاسو نه شئ کولای خپل قسط ورکړئ، نو د پيرودونکي ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ تر څو معلومه کړئ چې تاسو د څومره وخت لپاره پور اخيستلای شئ او څنګه يې بېرته تاديه کوئ.

EPSDT څه شی دی؟

EPSDT د 21 کالو څخه کم عمر ماشومانو او ځوانانو لپاره روغتيايي پاملرنه او ډاکټر ډيناسار په نوم خدمتونه دي. په دې پروګرام کې هڅه کيږي چې د امکان تر حده ماشومان روغ او صحتمند وساتي. **EPSDT** د ابتدايي دورې معايناتي نشحيصيه درملنې لپاره کار کوي. په دې کې بايد:

- هغه ستونزې چې د زيږون څخه پيليږي، په لومړيو کې معلومې کړي
- په منظمو ټاکل شويو وختونو کې د معاينې ډاکټر ليدنې شاملې وي
- د کومې ستونزې د موندلو لپاره د معايناتي ازموينې څخه استفاده وکړي.
- که کومې ستونزې وليدل شي، نو بايد تعقيبي ازموينې ترسره شي او
- د هر ډول روغتيايي ستونزو درملنه وشي

EPSDT څنګه کار کوي

EPSDT یو فدرالي قانون دی. په دې قانون کې ویل شوي چې دولت باید د هر ډول طبي اړتیا وړ روغتیایي پاملرنې خدمتونو لپاره پیسې ورکړي. طبي اړتیا په دې معنی ده چې دا خدمتونه د روغتیایي ستونزې لپاره دی او دا هغه څه دي چې ډیری ډاکټران به یې د ستونزې درملنه وکړي. دا د لویانو لپاره د روغتیایي پاملرنې له پوښښ څخه د ډیرو خدمتونو لپاره پیسې تادیه کوي. ځینې خدمتونه باید لومړی د مخکینۍ اجازې پروسې له لارې سم شي.

د EPSDT پوښښ

- منظم معاینات
- معاینات چې ماشوم څنګه وده او زده کړه کوي
- واکسینونه
- د سترګو معاینات
- د غوږو معاینات
- د زهرجنو موادو معلومول
- د غاښونو د ډاکټر سره ملاقات
- مشوره ورکول

ماشوم څو ځلې معاینه کېږي؟

د روغتیایی معایناتو داسې لیست شته چې ماشومان او ځوانان باید هر کال یاد معاینات ترلاسه کړي. د دغه لیست لیدلو لپاره، دلته کلیک وکړئ . د غاښونو د معاینې لیست د لیدلو لپاره دلته کلیک وکړئ.

EPSDT د لاندې ذکر شویو خدمتونو لپاره پیسې نه ورکوي:

- هغه خدمتونه یا توکي چې د فدرالي روغتیایي پاملرنې په قوانینو (د ټولنیز امنیت قانون 1905 (a) برخه) کې شامل نه وي.
- د تجربې په پړاو کې روغتیایي پاملرنه چې خوندي نه وي یا کار نه کوي.
- د لوړ لګښت خدمتونه یا توکي، دا په هغه صورت کې چې د ارزانه بیې خدمتونه کار وکړي.
- هغه خدمتونه چې طبي او روغتیایي خدمتونه نه وي.

د نورو معلوماتو لپاره، www.dvha.vermont.gov/members ته مراجعه وکړئ یا 1-800-250-8427 شمېرې ته زنګ ووهئ.

هغه څه چې ستاسو په برنامه کې نشته

- د کار اړوند زیانونه چې باید د کارګر د خسارې لخوا وپوښل شي،
- د هغه خدمتونو لګښتونه چې د محکمې لخوا یې امر شوی وي، پرته له دې چې دغه خدمتونه په طبي لحاظ هم اړین وي،
- هغه خدمتونه چې تجربوي یا تحقیقاتي پړاو کې وي،
- د سینګار یا ښکلا خدمتونه (هغه خدمتونه چې ستاسو څېره ښایسته کوي)
- هغه خدمتونه چې په طبي لحاظ اړین نه وي،
- خال وهل، د خال وهني درملنه یا مساج درملنه،
- د زیږون درملنه (هغه خدمتونه چې تاسو سره په میندوارۍ کې مرسته کوي)
- د روغتیایي کلب غړیتوب، او

- په بهرنیو هیوادونو کې روغتیایي پاملرنه.

د روغتیایي پاملرنې او ډاکټر ډیناسار په نوم برنامو کې د هغه خدمتونو ترلاسه کول چې تر پوښښ لاندې وي

استثناوې

کله چې یو خدمت د روغتیایي پاملرنې برنامې لخوا د 21 کالو یا له دې څخه د ډېر عمر لرونکو لویانو لپاره تر پوښښ لاندې نه وي نیول شوی، تاسو کولای شئ د دې خدمت د پوښښ غوښتنه وکړئ. د پیرودونکو خدماتي مرکز کولی شي تاسو سره د دې غوښتنې په سپارلو کې مرسته وکړي. تاسو او ستاسو د خدماتي چارو له چمتو کوونکي څخه به وغوښتل شي چې د خدمت په اړه د ورمونټ روغتیا ته د لاسرسي څانګې ته معلومات ورکړئ او دا چې ولې تاسو دغه خدمتونو ته اړتیا لرئ. موږ به تاسو ته په نږدې 30 ورځو کې د بریښنالیک له لارې ځواب واستوي. د EPSDT لخوا ټول طبي اړین خدمتونه د هر هغه چا لپاره دي چې عمر یې له 21 کلونو څخه کم وي. که یو خدمت د پوښښ په توګه لیست شوی نه وي، ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی باید د مخکینۍ اجازې سره یو ځای د هماغه خدمتونو د اصلاح غوښتنه وکړي.

د دې پروسې په اړه د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، یا د استثنایي غوښتنې لپاره، د پیرودونکو خدماتي مرکز ته په 1-800-250-8427 شمېره زنګ ووهئ. دا فورمې آنلاین هم موندلای شئ
www.dvha.vermont.gov/members/vermont-medicaid-programs/member-information/coverage-exceptions

مخکینۍ اجازه

د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې د ډاکټرانو، نرسانو او نورو متخصصینو سره یو ځای کار کوي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د روغتیایي پاملرنې هغه خدمتونه چې تاسو یې ترلاسه کوئ په طبي لحاظ اړین دي. ځینې خدمتونه او درمل باید مخکې له دې چې تاسو یې ترلاسه کړئ تصویب شي. دې ته د مخکینۍ اجازه ویل کیږي. ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکي پوهیږي چې دا خدمتونه او درمل څه دي، او دوی به ستاسو لپاره د مخکینۍ اجازې غوښتنه وکړي.

که چیرې ټول اړین اسناد د بیاکتنې لپاره ترلاسه شي، نو د مخکینۍ اجازې په اړه پریکړې په دریو ورځو کې ترسره کیږي. تاسو او ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی دواړو ته به د پرېکړه لیک یوه کاپي درکړل شي. د بیړنیو خدمتونو لپاره مخکینۍ اجازې ته اړتیا نه شته.

دوامداره طبي تجهیزات (DME)

دوامداره طبي تجهیزات (DME) هغه څه دي چې تاسو ورڅخه استفاده کولای شئ تر څو په روغتیایي شرایطو کې ستاسو سره د ژوند په اسانه کولو کې مرسته وکړي. ویلچیرونه او د روغتون بسترونه د DME بېلګې دي.

زه روغتیایي پاملرنه لرم او زه DME ته اړتیا لرم. څنګه یې ترلاسه کړم؟

1. ستاسو د روغتیایي چارو چمتو کوونکی به تاسو د ارزونې لپاره یو ارزوونکي ته راجع کړي.

- ډېری ارزوونکي فزیکي یا حرفوي معالجین دي. ارزوونکی به ستاسو سره د ارزوني لپاره یو وخت وټاکي. که چیرې ارزونکی ډېر بوخت وي، ممکن تاسو د ارزونې لپاره انتظار وکړئ. تاسو ممکن ددې لپاره هم انتظار وکړئ که چیرې د DME پلورونکي هڅه کوي چې تاسو ته د تجهیزاتو په برابرولو کې مرسته وکړي. د DME پلورونکی هغه شرکت دی چې تجهیزات چمتو کوي.
- **یادونه**: که چیرې DME چې تاسو ورته اړتیا لرئ ساده وي، تاسو ممکن ارزونې ته اړتیا و نه لرئ. که ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی وایي چې تاسو ارزونې ته اړتیا نه لرئ، 2 مې مرحلې ته لاړ شئ.

- ارزوونکی به پریکړه وکړي چې تاسو کوم ډول DME ته اړتیا لرئ او خپل د خدماتي چارو چمتو کوونکي ته د ارزوني فورمه واستوي.

2. ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی به یو نسخه ولیکي.

- ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی به د ارزوني فورمه لاسلیک کړي او د DME لپاره به پلورونکي ته نسخه واستوي.

3. د DME پلورونکی به د روغتیایي پاملرنه څخه د مخکینی اجازې غوښتنه وکړي.

که تاسو مخکینی اجازې ته اړتیا نه لرئ، 5مې مرحلې ته لاړشئ.

- که تاسو د DME لپاره مخکینی اجازې ته اړتیا لرئ، پلورونکی به ستاسو او د DME په اړه معلومات روغتیایي پاملرنې څانګې ته واستوي. مخکینی اجازه په دې معنی ده چې په روغتیایي پاملرنه کې باید ویل شوي وي چې مخکې له دې چې تاسو تجهیزات ترلاسه کړئ، دا اجازه سمه ده.
- یو کلینیکي بیاکتونکی به ستاسو پر معلوماتو بیاکتنه وکړي. بیاکتونکی به پریکړه وکړي چې آیا تاسو طبي تجهیزاتو ته اړتیا لرئ.
- کلینیکي بیاکتونکی ممکن نورو معلوماتو ته اړتیا ولري تر څو پریکړه وکړي چې ایا تاسو طبي تجهیزاتو ته اړتیا لرئ. که ارزوونکی شخص نورو معلوماتو ته اړتیا ولري، روغتیایي پاملرنه به د DME له پلورونکي څخه وغواړي چې دا معلومات ورواستوي. پلورونکی باید د 12 ورځو په ترڅ کې معلومات واستوي. کله چې د روغتیایي پاملرنې اداره ټول معلومات ولري، ارزونکی باید په 72 ساعتونو کې پریکړه وکړي.
- که DME د کورنۍ روغتیایی ملاقات یوه برخه وي نو تاسو باید په لومړي ځل چې DME امر کیږي د خپل خدماتي چارو د چمتو کوونکي سره ووینئ

4. روغتیایي پاملرنه به تاسو ته د پریکړې خبرتیا واستوي

- روغتیایي پاملرنه به تاسو ته د پریکړې اړوند د یو لیک په لیږلو سره معلومات درکړي چې دې ته د پریکړې خبرتیا ویل کیږي. روغتیایي پاملرنې څانګه به دا لیک ستاسو چمتو کوونکي او د DME پلورونکي ته واستوي. په ورمونټ پروګرام کې، د ورمونټ روغتیا ته د لاسرسي څانګه (DVHA) د روغتیایي پاملرنې خدمتونه چلوي، نو په همدې اساس به دا لیکونه د DVHA څخه وي.

5. د DME پلورونکی به ستاسو لپاره DME ترلاسه کړي.

که روغتیایي پاملرنه تصویب شي، د DME پلورونکی به تاسو ته DME درکړي یا ستاسو لپاره به یې امر وکړي.

که روغتیایي پاملرنه تصویب نه شي، تاسو کولای شئ د پریکړې لپاره د استیناف غوښتنه وکړئ. د اعتراض یا استیناف غوښتلو لپاره، د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمیره اړیکه ونیسئ. روغتیایي پاملرنه په ورمونټ کې د DME غوښتنې د تصویبولو لپاره د وخت مقدار د لنډولو لپاره سخت کار کوي. د پیچلي ویلچیرونو لپاره، به دا شاوخوا 9 ورځې وخت نیسي. دا د هغه وخت څخه کم دی چې د روغتیایي پاملرنې د اصولو له مخې ورته اړتیا شته. دا د ملي اوسط څخه هم لنډ وخت دی. د ساده تجهیزاتو لپاره، د وخت اندازه کمه ده. که تاسو روغتیایي پاملرنه او روغتیایي مرستې یا د بیمې بل پلان لرئ، دا پروسه ممکن ډیر وخت ونیسي.

درمل او مخکینۍ اجازه

د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې خدمتونه د نورو بیمې شرکتونو په څیر، په ارزانه بیه د کیفیت لرونکي روغتیایي پوښښ د چمتو کولو لپاره کار کوي. د لګښتونو په کمولو کې د مرستې لپاره، د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې خدمتونه د خپلو وړاندیز کوونکو څخه غوښتنه کوي چې په لیست کې غوره درمل وړاندیز کړي. د غوره درملو په لیست کې ځینې عمومي درمل شته چې لږ لګښت لري. دا درمل د شرکتونو لخوا اعلان شوي خو د ډېرو ګرانو درملو په څیر کار کوي. د خدماتي چارو چمتو کوونکي باید وړاندیز وکړي او درمل جوړوونکي باید د ټیټ نرخ مساوي درملو لپاره فایل ډک کړي چې د طبي پلوه مناسب وي. که تاسو خدماتي بدیل رد کړئ، ممکن ستاسو د ګرین ماونټین د روغتیایي پاملرنې خدماتي پروګرام بې کیفیته درمل تر خپل پوښښ لاندې را نه ولي.

د ځینو اوږدمهاله درملنې لپاره درمل باید تاسو ته د 90 ورځو په اکمالاتي کیټ کې درکړل شي. دا هغه درمل دي چې په منظمه توګه د ښې روغتیا د اداره کولو لپاره اخیستل کیږي. دا د شخص په وضعیت پورې اړه لري او د وینې لوړ فشار، کولیسټرول او د شکر ناروغۍ اداره کولو لپاره درمل هم پکې شامل دي، مګر محدود نه دي. په لومړۍ ځل چې تاسو د رملو هڅه کوئ، دا کېدای شي د هغې مودې په پرتله چې ستاسو او ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی د پریکړې له مخې ستاسو لپاره سمه وي، د لنډې مودې لپاره وي. له هغه وروسته به تاسو به د 90 ورځو په ترڅ کې توزیع ترلاسه کړئ.

که ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی فکر کوي چې تاسو داسې درملو ته اړتیا لرئ چې هغه ښه نه دي یا باید د توزیع لپاره 90 ورځې وخت ونه نیسي، نو هغه کولای شي موږ ته د دې درملو لپاره د پیسو ورکړې د اجازې غوښتنه وکړي. که تاسو د غوره درملو یا داسې درملو د لیست کاپي غواړئ چې د 90 ورځو تحویل ته اړتیا لري، د پیرودونکو خدماتي مرکز ته زنګ ووهئ یا دغه ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ http://dvha.vermont.gov/for-providers/preferred-drug-list-clinical-criteria .

بیړني حالات

بیړنی حالت یو ناڅاپي او نابېره پېښېدونکي ناروغي، طبي حالت، یا رواني روغتیایي حالت دی چې داسې نښې نښانې ولري چې تاسو فکر کوئ که سمدستي مو طبي پاملرنه ونه شي نو کېدای شي روغتیا یا ژوند ته مو یو جدي ګواښ پېښ کړي. دلته د ځینو بیړنیو حالاتو د بېلګو یادونه کوو، خو دا بېلګې په ټولو بیړنیو حالاتو پورې محدود نه دي:

- د سینې درد
- مات شوي هډوکي
- اختلاطات او اختلالات
- سخته خونریزي
- شدیده سوځیدنه
- سخت درد
- رواني روغتیایي بحران

له بیړني حالت څخه وروسته خدمتونه د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو روغتیا د بیړني حالت تر پوښښ وروسته هم ثبات لري.

په بیړنیو طبي خدمتونو لکه نور پروسیجرونه لکه د ټپ ګنډل، جراحي، ایکسرې، یا نور پروسیجرونه هم تر پوښښ لاندې نیول کېږي.

که تاسو په بیړني حالت کې یاست، نو سمدستي 911 شمېرې ته زنګ ووهئ یا د بیړنۍ پاملرنې لپاره نږدې بیړنۍ خونې یا روغتون ته ولاړ شئ. تاسو د بیړني پاملرنې لپاره دې ته اړتیا نه لرئ چې ستاسو PCP مو باید ورته معرفي کړي. خپل PCP ته اجازه ورکړئ چې پوه شي څه پېښ شوي دي.

که تاسو د شبکې څخه بهر بیړني پاملرنې ته اړتیا لرئ، د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې پروګرام به د خدماتي چارو د چمتو کوونکي سره یوځای د لاسرسي لپاره هره هڅه او کوښښ ترسره کړي تر څو موږ وکولای شو د خدمتونو بیل تادیه کړو. د هر ډول معلوماتو او بیل چې تاسو ترلاسه کوئ په اړه یې د راپور کولو لپاره د پرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د ګرین ماونټین د روغتیایي پاملرنې پروګرام ددې تضمین نه شي کولای چې د شبکې څخه بهر د خدماتي چارو چمتو کوونکي به ستاسو د ګرین ماونټین د روغتیایي پاملرنې بیمه به انتخاب او ومني.

تاسو باید څه وخت پیسې ورکړئ

که تاسو د پروګرام قواعد تعقیب نه کړئ، تاسو باید پخپله د خدمتونو لپاره پیسې ورکړئ. د دې حالت د را مینځته کېدو ځیني بېلګې دا دي:

- که چیرې خدمتونه د راجع کولو پروسې یا مخکینۍ اجازې ته اړتیا ولري او تاسو د خدمتونو د ترلاسه کولو وړاندې دا چارې ترسره نه کړئ؛
- که تاسو د خدماتي چارو یو داسې وړاندیز کوونکي ته ورشئ چې هغه د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې بیمه نه مني؛ او
- که ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی تاسو ته ووایي چې دا خدمتونه ستاسو په پروګرام کې پوښلی نه دی، او تاسو پریکړه وکړئ چې هر څنګه وي باید دا خدمتونو ته لاسرسی ولرئ.

ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل د خماتي چارو چمتو کوونکي ته وواياست چې تاسو د ګرین ماونټین د پاملرنې په پروګرام کې یاست. که دوی ستاسو بیمه ونه مني، په دې اړه به دوی تاسو ته خبر درکړي.

که غواړئ چې د خپلې طبي پاملرنې اړوند بیلونه تاسو تادیه نه کړئ، نو د خپل پروګرام اصول او قوانین تعقیب کړئ.

که تاسو ته یو بیل درکړل شي

که تاسو د خپل پروګرام قواعد تعقیب کړئ، تاسو ته باید د طبي خدمتونو اړوند هغه بیلونه در نه کړل شي چې خدمتونه یې د پروګرام لخوا پوښل شوي وي، پرته له هغه حالته چې تاسو یې باید په مشترک ډول تادیه ورکړئ. که تاسو ته بیل درکړل شي، نو دا ګامونه تعقیب کړئ:

- سمدستي بیل خلاص کړئ،
- د خدماتي چارو چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی وپوهیږي چې تاسو د ګرین ماونټین د روغتیایي پاملرنې په پروګرام کې شامل یاست، او
- د مرستې لپاره د پیرودونکو له خدماتي مرکز سره په 8427 -250-800-1-شمېره زنګ ووهئ.
- د پیرودونکو خدماتي مرکز ته له زنګ وهلو وړاندې بیل مه تادیه کوئ. د ګرین ماونټین د روغتیایي پاملرنې د خدمتونو بیل یوازې د خدماتي چارو چمتو کوونکي تادیه کولای شي. که تاسو د خدمتونو په مقابل کېل پیسې ورکړئ، موږ نه شو کولای هغه پیسې بیرته تاسو ته درکړو.

که تاسو د بیمې په نورو پروګرامونو کې شامل یاست

که تاسو د بیمې په نورو پروګرامونو کې شامل یاست، تاسو باید د خپل بیل د بیمې پلان قواعد او اصول تعقیب کړئ. د خدماتي چارو هغه وړاندیز کوونکو ته ورشئ چې ستاسو د بیمې په پلان او زموږ په برنامو کې داخل وي. ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی باید لومړی تاسو ته د نورو بیمو بیل درکړي. زموږ پروګرامونه ممکن د هغه خدمتونو په پوښلو کې مرسته وکړي چې ستاسو په نورو بیمو کې نه وي.

ستاسو حقوق او مسؤلیتونه

تاسو حق لرئ چې

- په احترام او درنښت چلند درسره وشي
- په پاملرنه در سره چلند وشي
- خپل د خدمتونو چمتو کوونکي انتخاب او بدل کړئ،
- د خپلي برنامې د خدمتونو او د خدمتونو د چمتو کوونکو په اړه حقایق ترلاسه کړئ،
- د خپلي روغتیا په اړه بشپړ، اوسني معلومات په هغه شرایطو کې ترلاسه کړئ چې تاسو وربانديي پوهیږئ،
- ستاسو د روغتیایي پاملرنې په اړه پریکړو کې دخیل اوسئ، چې په دې کې ستاسو پوښتنو ته ځواب ویل او د روغتیایي خدمتونو څخه ستاسو د انکار حق هم شامل دی،
- د خپل روغتیایي ریکارډ د یوې کاپي غوښتنه وکړئ او ترلاسه یې کړئ او کله چې تاسو فکر کوئ چې معلومات غلط دي، په هغه کې د بدلونونو غوښتنه وکړئ،
- د یو داسې تصدیق شوي خدماتي چارو چمتو کوونکي څخه دوهم نظر ترلاسه کړئ چې هغه په ورمونټ روغتیایي پاملرنې پروګرام کې دخیل وي،
- ستاسو د پروګرام یا ستاسو د روغتیا پاملرنې په اړه اندیښنو په اړه بحث وکړئ (د نورو معلوماتو لپاره 20 پاڼه وګورئ)
- د هر ډول محدودیت یا انزوا څخه پاک اوسئ چې د ځورونې، ډسپلین، اسانتیا، یا غچ اخیستنې په توګه ورڅخه استفاده کیږي، او
- که چیرې له تاسو څخه هغه خدمتونه بند شوي وي چې ستاسو په فکر ورته اړتیا لرئ، نو د استیناف غوښتنه وکړئ. د نورو معلوماتو لپاره 19 پاڼه وګورئ.

همداراز تاسو ځینې مسؤلیتونه هم لرئ چې باید خپلي روغتیا ته پاملرنه وکړئ:

- خپل د خدمتونو چمتو کوونکي ته ستاسو د نښو او روغتیایي مخیني یا سابقې په اړه معلومات ورکړئ؛
- کله چې تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ یا په یو څه نه پوهیږئ، نو پوښتني وکړئ؛
- د روغتیایي خدماتي پلانونو تعقیبول چې تاسو او ستاسو چمتو کوونکي وربانديي موافقه کړې وي؛
- خپل ملاقاتونه پر خپل وخت ترسره کړئ، یا که تاسو ملاقات نه شئ کولای، نو په دې اړه مخکې له مخکې زنګ ووهئ؛
- د خپل پروګرام د اصولو په اړه ځان پوه کړئ تر څو تاسو د هغه خدمتونو څخه ښه ګټه پورته کړئ چې تاسو یې ترلاسه کولای شئ؛
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خدمتونو نورو چمتو کوونکو ته له تګ وړاندې د)اړتیا پر مهال (د خپل لومړنۍ پاملرنې ډاکټر (PCP) لخوا معرفي شوي یاست؛
- د غوښتنې پر مهال د قسطونو او مشترک تادیاتو ورکول؛
- که تاسو نه شئ کولای چې ملاقات ترسره کړئ نو د ملاقات د لغوه کولو یا بیا مهالویش کولو لپاره زنګ ووهئ.

د ژوندانه توصیې او د پرمختګ لارښوونې

دلته د پرمختللي ورمونټ پروګرام لارښود قانون عمومي لنډیز دی (چې په 18 سرلیک، 231 څپرکي کې ترلاسه شوی دی) او دا د ناروغ لپاره څه معنی لري:

یو "مخکنی لارښود" یو لیکلی ریکارډ دی چې کیدای شي دا پکې واضح شوي وي چې تاسو څوک انتخابوئ چې ستاسو په استازیتوب فعالیتونه ترسره کړي، ستاسو د لومړني روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی څوک دی، او ستاسو د روغتیایي پاملرنې غوښتنو یا درملیزو اهدافو په اړه تاسو ته لارښوونې څه دي. دا کیدای شي داسې ځواک وي چې د روغتیایي پاملرنې یا د ترمینل پاملرنې د سند لپاره د مدافع وکیل رول ولوبوي. مخکینۍ لارښوونې وړیا دي.

یو بالغ ممکن د یو یا ډیرو خلکو او بدیلو خدمتونو د نومولو لپاره له مخکینۍ لارښوونې څخه استفاده وکړي چې ستاسو لپاره د روغتیایي پاملرنې د پریکړې کولو واک لري. تاسو کولای شئ دا تشریح کړئ چې دغه شخص څومره واک لري، کوم ډول روغتیایي پاملرنه غواړئ یا یې نه غواړئ، او دا وواياست چې تاسو څنګه غواړئ شخصي مسایل لکه د جنازې ترتیبات اداره کړئ. د یو اړتیا له مخې یا په هغه صورت کط چې تاسو نه غواړئ دغه اشخاص پرېکړه وکړي، نومخکینی لارښود ممکن د یو یا ډیرو اشخاصو نومولو لپاره هم وکارول شي چې د سرپرست په توګه خدمتونه ترسره کړي.

که ستاسو حالت داسې وي چې تاسو نه شئ کولی د خپلې روغتیایي پاملرنې اړوند لارښوونه وکړئ، او دا یو بېړنی حالت نه وي، نو پرته له دې چې دا معلومه کړي چې ایا تاسو مخکینی لارښود لرئ، د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي نه شي کولای تاسو ته روغتیایي پاملرنې خدمات چمتو کړي. د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي چې پوهیږي چې تاسو له وړاندې لارښود لرئ باید د هغه شخص لارښوونې تعقیب کړي چې ستاسو لپاره د روغتیایي پاملرنې د پریکړې کولو واک لري یا په مخکینۍ لارښوونو کې لارښوونې تعقیب کړي.

د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکی کولای شي د لارښوونو سره د اخلاقي یا نورو شخړو پراساس ستاسو په مخکینۍ لارښوونو کې د لارښوونو له تعقیب څخه انکار وکړي. په هرصورت، که چیرې د روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي انکار وکړي، چمتو کوونکی که امکان ولري باید تاسو ته د هرې شخړې او هغه شخص د نوم په اړه خبر درکړي چې تاسو یې ستاسو په استازیتوب اقدام کوي؛ ستاسو د پاملرنې بل داسې چمتو کوونکي ته په د فعالیت په لیږدولو کې مرسته وکړي چې ستاسو د لارښوونو درناوی کوي؛ تر څو چې د خدمتونو چمتو کوونکی شخص موندل کېږي ترهماغه وخته د روانې روغتیایی پاملرنې خدمتونه چمتو کول؛ او ستاسو په طبي ریکارډ کې د شخړې، د شخړې د حل او د شخړې د حللاري لپاره اخیستل شوي ګامونه مستند کړئ.
د روغتیایي پاملرنې د خدماتي چارو هر چمتو کوونکی، د روغتیایي پاملرنې تاسیسات او د استوګنې تاسیسات باید پروتوکولونه ولري تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د ټولو ناروغانو مخکینۍ لارښوونې په داسې طریقه اداره کیږي چې د دولت ټول قوانین او مقررات په کلکه پکې تعقیبیږي.

تاسو کولی شئ د جواز ورکولو او محافظت څانګې ته په 1-800-564-1612 شمېره زنګ ووهئ یا په انلاین ډول د هغه چا په اړه خپل شکایت ثبت کړئ چې قانون نه تعقیبوي. تاسو کولای شئ په لیکلي بڼه شکایت درج کړئ:

Division of Licensing and Protection
South Main Street, Ladd Hall 103
Waterbury, VT 05671

تاسو کولای شئ د ورمونټ برنامې د اخلاقي چارو څانګې ته په 802-828- 2909 شمېره زنګ ووهئ او یا د دوی ویبپاڼې www.vtethicsnetwork.org ته مراجعه وکړئ تر څو د دولتي قوانینو، مخکینیو لارښوونو او د ژوندانه توصیو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

18 شمېره سرلیک په http://legislature.vermont.gov/statutes/chapter/18/231 کې شته. تاسو کولی شئ هغه فورمې یا نور معلومات ترلاسه کړئ چې ورته اړتیا لرئ نوموړي شوي ویبپاڼې ته لاړ شئ، خپل د خدمتونو چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ یا د پیرودونکي ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

د بدن د غړو ورکول

کېدای شي تاسو دې ته لېواله یاست چې د مړیني وروسته خپل د بدن غړي نورو کسانو ته ورکړئ. د بدن د غړو ډالۍ کوونکی شخص کولای شي د ډېرو خلکو سره مرسته وکړي. که تاسو غواړئ په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړئ، د وړیا معلوماتو لپاره ASK-HRSA-888-1 ته زنګ ووهئ.

ستاسو د خدماتي چارو د چمتو کوونکي (PCP) سره د معلوماتو شریکول

د دې لپاره چې ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکي PCP سره مرسته وکړئ نو باید تاسو هغه روغتیایي پاملرنه ترلاسه کړئ چې تاسو یې لرئ، موږ ممکن د هغه یا هغې سره ستاسو ځیني معلومات شریک کړو. د دې لیستونو څخه ځیني ممکن په دې اړه وي:

- هغه ناروغان چې د شکر ناروغي لري چې په تیر کال کې یې د سترګو معاینه نه وي کړې،
- هغه میرمني چې په دې وروستیو کې یې د رحم ټیسټ یا سیني ټیسټ نه وي ترسره کړی،
- هغه ماشومان چې تازه واکسینونه یې نه وي اخیستي،
- د مخدره توکو هغه ناروغان چې د غیر مخلوطو درملو څخه د منفي اغېزو د مخنیوي په برخه کې مرسته کوي او
- هغه ماشومان چې د خپلو معمولي معایناتو څخه شاته پاتې وي.

د محرمیت پالیسۍ خبرتیا

کله چې تاسو زموږ د برنامو لپاره د وړ شخص په توګه وپېژندل شئ، تاسو به زموږ د محرمیت د پالیسیو له کاپي سره یو لیک ترلاسه کړئ چې په هغه کې به دا یادونه شوې وي چې تاسو ددې پروګرام مستحق یاست. فدرالي قانون، د روغتیایي بیمې د قابلیت او احتساب قانون (HIPAA)، دا غوښتنه کوي چې موږ باید تاسو ته خبرتیا درکړو. دا خبرتیا تاسو ته ستاسو د محرمیت د حقونو او ستاسو د روغتیایي معلوماتو څخه د استفادې یا د هغه د شریکولو د څرنګوالي په اړه معلومات وړاندې کوي. که تاسو د خبرتیا بلې کاپي ته اړتیا لرئ تاسو کولای شئ د پیرودونکو خدماتي مرکز ته زنګ ووهئ او د یوې کاپي غوښتنه وکړئ. کولای شئ دا خبرتیا په لاندې ویبپاڼه کې په برېښنایي ډول هم وګورئ www.humanservices.vermont.gov/privacy-documents

که تاسو فکر کوئ چې ستاسو د محرمیت حقونه تر پښو لاندې شوي، مهرباني وکړئ د AHS د محرمیت چارو د مامور سره په 802-241-2234 شمېره اړیکه ونیسئ یا دغه ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ www.humanservices.vermont.gov/policy-legislation/hipaa/hipaa-info-beneficiaries/health-information-complaints/.

د کیفیت د تضمین پروګرام

د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې د کیفیت د تضمین یو پروګرام لري تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو د خپلو خدماتي چمتو کوونکو څخه کیفیت لرونکي روغتیایي پاملرنې او ستاسو د برنامې له لارې ښه خدمتونه ترلاسه کوئ.

ځینې شیانو ته چې موږ ګورو د روغتیایي پاملرنې د کیفیت په اندازه کولو کې مرسته کوي:

- ناروغان څومره درمل کاروي:
- د پروګرام څومره غړي د منظم مخنیوي روغتیایي پاملرنې ترلاسه کوي:
- د پروګرام څومره غړي چې په بېړني حالت کې نه وي د ایمرجنسي څانګې څخه کار اخلي:
- څنګه د فزیکي روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي او د رواني روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکي یو له بله خدمتونه همغږي کوي او
- زموږ له پروګرام څخه څومره کسان خوښ دي او د خدماتي چارو څومره چمتو کوونکي لري.

موږ د ځینو اوږدمهاله ناروغیو لپاره د کلینیکي ښه فعالیت لارښود انتخاب کړي چې موږ د خدماتي چارو چمتو کوونکي دې ته هڅوو چې د روغتیایي پایلو د ښه کولو لپاره لارښوونې تعقیب کړي.
که تاسو غواړئ هغه لارې چارې وړاندیز کړئ چې موږ کولای شو له مخې یې خپل پروګرامونه لا ښه کړو او ستاسو لپاره ښه کار وکړو، نو د پیرودونکو خدماتي مرکز ته زنګ ووهئ. ستاسو نظرونه به زموږ د کیفیت د تضمین د بیاکتنې یوه برخه وي.

تاسو کولی شئ د روغتونونو، نرسنګ کورونو او د کورني روغتیایي پاملرنې چمتو کوونکو لخوا د پاملرنې کیفیت په اړه معلومات ترلاسه کړئ، او د کلینیکي ښو فعالیتونو اړوند لارښوونو یوه کاپي ترلاسه کړئ، د ورمونټ روغتیا ته د لاسرسي څانګې ویبپاڼې ته لاړ شئ www.greenmountaincare.org یا د پیرودونکو خدماتي مرکز ته په 1-800-250-8427 شمېره زنګ ووهئ.

کله چې تاسو زموږ له شوې پرېکړې سره موافق نه یاست، څه باید وکړئ

تاسو کولی شئ د استیناف غوښتنه وکړئ. دا په دې مانا ده چې غوښتنه وکړئ تر څو یو څوک ستاسو قضیه وګوري او دا معلومه کړي چې ایا موږ غلطي کړې ده. د نورو معلوماتو د موندلو لپاره مهرباني وکړئ لوستلو ته دوام ورکړئ.

لومړی ګام دا دی چې پریکړه وکړئ چې تاسو د څه شي غوښتنه کوئ.

- ایا تاسو د روغتیایي پاملرنې / ډاکټر پروګرام خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره اعتراض کوئ. یا د VPharm، Dynasuar، یا د درملنې د سپما پروګرام؟ یا تاسو د قسطونو غوښتنه کوئ؟
  - که ځواب مو هو وي، نو مهرباني وکړئ دغه سرلیک ته مراجعه وکړئ، "که تاسو زموږ له شوې پریکړې سره موافق نه یاست نو څه باید وکړئ."
- ایا تاسو له دې سره، سره چې ستاسو د روغتیایي پاملرنې/ډاکټر ډیناسار برنامې لخوا د روغتیایي پاملرنې خدمتونه پوښل شوي، بیا هم اعتراض لرئ؟
  - که ځواب مو هو وي، نو مهرباني وکړئ دغه سرلیک ته مراجعه وکړئ "که تاسو د روغتیا پاملرنې خدمتونو په اړه د پریکړې سره موافق نه یاست نو څه باید وکړئ."

که تاسو زموږ له شوې پرېکړې سره موافق نه یاست، نو څه باید وکړئ.
تاسو کولای شئ د دولتي عادلانه اوریدنې د غوښتنې له لارې اعتراض وکړئ. د بشري خدمتونو په تشکیل کې د اوریدنې چارو اړوند مامور به ستاسو قضیه واوري. دوی به پریکړه وکړي چې آیا ورمونټ روغتیایي پاملرنې پروګرام سمه پریکړه کړې که څنګه.

تاسو 90 ورځې لرئ چې د دولتي عادلانه اوریدنې لپاره غوښتنه وکړئ. دا 90 ورځې له هغه نېټې څخه پیلېږي چې تاسو پکې د استیناف غوښتنه کوئ.
د دولتي عادلانه اوریدنې د غوښتنې لپاره درې لارې شته :

- د پیرودونکو خدماتي مرکز ته په 1-800-250-8427 شمېره زنګ ووهئ؛
- په انټرنیټ کې په آنلاین بڼه دغه ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ AHS.DVHAHealthCareAppealsTeam@vermont.gov. که تاسو د VHC آنلاین حساب لرئ، تاسو کولای شئ د خپل اکونټ له لارې د استیناف غوښتنه وکړئ؛
- په لیکلي ډول - یو لیک واستوئ:

Human Services Board
14-16 Baldwin St., 2nd Floor
Montpelier, VT 05633-4301

په لیک یا بریښنالیک کې، خپل نوم، د زیږون نیټه، او د تلیفون شمیره ولیکئ. دا پکې ووایاست چې تاسو د څه شي غوښتنه کوئ او ولې.

ایا موږ ستاسو روغتیايي پاملرنه / ډاکټر پروګرام خدمتونه بند کړي دي؟ ډیناسور، VPharm یا د درملنې سپما پروګرام؟ تاسو کولای شئ د خپل ریاست د عادلانه اوریدنې پر مهال د روغتیايي پاملرنې خدماتي پوښښ جاري وساتئ. موږ دې ته "د امتیازاتو دوام" وایو. (لاندې سرلیک وګورئ، **د امتیازاتو دوام - نور هغه څه چې تاسو باید وربانديې پوه شئ - (وړتیا او خدمتونه).**
تاسو 11 ورځې وخت لرئ، یا د نوې پریکړې د تنفیذ له نیټې څخه مخکې، چې په دغه دواړو مودو کې هره موده وروستۍ وي، وخت لرئ چې د دغه امتیازاتو غوښتنه وکړئ. دا 11 ورځې له هغې نیټې څخه پیلیږي چې ورمونټ د روغتیايي پاملرنې خدمتونو څانګه تاسو ته خبرتیا لیږلې ده. تاسو باید د استیناف پر مهال خپل د میاشتنې قسطونو تادیه کولو ته دوام ورکړئ یا کېدای شي ستاسو خدماتي پوښښ پای ته ورسیږي. د دې لپاره چې ستاسو د استیناف په جریان کې ستاسو د روغتیايي پاملرنې امتیازاتو ترلاسه کولو ته دوام ورکړئ، ښه خبره داده چې د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ.

ایا تاسو خپل د قسطونو په اړه د استیناف غوښتنه کوئ؟ له هغه مبلغ او اندازې څخه وړاندې چې موږ یې تاسو ته د بدلون په اړه خبر درکوو، تاسو باید خپل میاشتنې قسطونه پر خپل وخت تادیه کړئ. که تاسو داسې ونه کړئ، ستاسو خدماتي پوښښ ممکن پای ته ورسیږي. که تاسو د خپل ریاست عادلانه اوریدنې قضیه وګټئ نو موږ به تاسو ته هغه مقدار بیرته درکړو چې تاسو تادیه کړی وي.

کله چې تاسو د دولتي عادلانه اوریدنې غوښتنه وکړئ، نوڅه پیښیږي؟

مخکې له دې چې موږ د دولتي عادلانه اوریدنې لپاره ستاسو غوښتنه د بشري خدمتونو بورډ ته واستوو، ورمونټ د روغتیايي پاملرنې پروګرام به ستاسو پر قضیه بیاکتنه وکړي. موږ ممکن تر 15 ورځو پورې وخت واخلو تر څو وګورو چې ایا موږ تېروتنه کړې. د روغتیايي پاملرنې د استیناف ټیم یو غړی به ستاسو سره اړیکه ونیسي تر څو ستاسو د اعتراض په اړه بحث وکړي. کېدای شي موږ پرته له دې چې تاسو د دولت عادلانه اوریدنې ته لاړ شئ ستاسو ستونزه حل کړو.

که موږ ونه شو کولای خپله پریکړه بدله کړو، موږ به ستاسو غوښتنه د بشري خدمتونو بورډ ته واستوو. تاسو به د دوی څخه یو لیک ترلاسه کړئ. د اوریدنې مامور چې ستاسو د قضیې پریکړه کوي هغه به د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره یوه ناسته جوړه کړي چې ایا ورمونټ د روغتیايي پاملرنې پروګرام کومه غلطي کړې که څنګه. دا مهمه ده چې تاسو په دې غونډه کې ګډون وکړئ. تاسو کولای شئ د خپل ځان په استازیتوب خبرې وکړئ یا بل څوک ستاسو په استازیتوب خبرې وکړئ.

د پریکړې ترلاسه کول به څومره وخت ونیسي؟ د بشري خدمتونو بورډ باید ستاسو د قضیې اړوند لومړي اعتراض له نیټې څخه د 90 ورځو په ترڅ کې پریکړه وکړي.

ایا تاسو بېړنۍ پریکړې ته اړتیا لرئ؟ که د پرېکړې لپاره انتظار ستاسو روغتیا یا ژوند ته جدي زیان رسوي، نو په دې اړه موږ ته ووایاست. که تاسو د بېړنۍ دولتي عادلانه اوریدنې لپاره مستحق یاست (چې د "چټکي دولتي عادلانه اوریدنې" په نوم یادیږي)، ستاسو د استیناف پریکړه به ژر تر ژره ترسره شي، دا په هغه صورت کې که تاسو د روغتیايي پاملرنې د خدمتونو ترلاسه کولو پر مهال ړانده، معیوب یا 65 کلن یا له دې څخه ډېر عمر ولرئ. که تاسو د بل دلیل له مخې د روغتیايي پاملرنې خدمتونه ترلاسه کوئ، نو تاسو به د 7 ورځو په ترڅ کې پریکړه ترلاسه کړئ.

که تاسو د خپل روغتیايي پاملرنې پروګرام د خدمتونو په اړه پریکړې سره موافق نه یاست، نو څه باید وکړئ.

لومړی ګام دا دی چې د داخلي استیناف غوښتنه وکړئ.
په داخلي استیناف کې به یو داسې شخص چې د ورمونټ د روغتیايي پاملرنې د پروګرام په لومړۍ پرېکړه کې دخیله نه وي ستاسو قضیه وګوري او نوې پریکړه به وکړي. په ډېرو مواردو کې، مخکې له دې چې د دولتي عادلانه محکمې غوښتنه وکړئ، تاسو باید لومړی د داخلي استیناف غوښتنه وکړئ.

تاسو د داخلي استیناف لپاره 60 ورځې وخت لرئ. دا 60 ورځې له هغې نیټې څخه پیلیږي چې د ورمونټ روغتیایي پاملرنې پروګرام تاسو ته د پریکړې خبرتیا ولیږي. که تاسو د خپل خدماتي چارو له چمتو کوونکي څخه وغواړئ، دوی هم ممکن ستاسو لپاره د استیناف غوښتنه وکړي.

د داخلي استیناف لپاره درې لارې شته:

- د تلیفون له لارې - د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په (TDD/TTY) 1-800-250-8427 1-888-834-789
- شمېره زنګ ووهئ
- یا په انلاین ډول دغه ویبپاڼې ته بریښنالیک واستوئ AHS.DVHAHealthCareAppealsTeam@vermont.gov
- د بریښنالیک له لارې - یو لیک واستوئ:

Vermont Health Connect and Green Mountain Care
Customer Support Center
101 Cherry St., Suite 320
Burlington, VT 05401

په لیک یا بریښنالیک کې، خپل نوم، د زیږون نیټه، او د تلیفون شمیره ولیکئ. هغه څه روښانه کړئ چې تاسو یې غوښتنه کوئ، په شمول ددې چې کوم خدمتونه دي چې تاسو یې غوښتنه کړې او یا له تاسو څخه ګرځول شوي دي.

ایا موږ د روغتیایي پاملرنې هغه خدمتونه چې تاسو وړاندې ترلاسه کول کم کړي یا بند کړي دي. تاسو کولی شئ د خپل داخلي استیناف په جریان کې خپل خدمتونه جاري وساتئ. تاسو یوازې 11 ورځې وخت لرئ، یا د نوې پریکړې د تنفیذ له نیټې څخه مخکې، چې په دغه دواړو مودو کې هره موده وروستۍ وي، وخت لرئ چې د دغه امتیازاتو غوښتنه وکړئ. دا 11 ورځې له هغې نیټې څخه پیلیږي چې د ورمونټ روغتیایي خدماتي پروګرام تاسو ته خبرتیا لیږلې ده. موږ دې ته "د امتیازاتو دوام" وایو. (لاندې سرلیک وګورئ، **د امتیازاتو دوام - نور هغه څه چې تاسو باید وربانديې پوه شئ - (وړتیا او خدمتونه).**

خپلو ترلاسه شویو خدمتونو ته د دوام ورکولو لپاره، ښه خبره دا ده چې د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ تر څو له دوی څخه د همدې غوښتنه وکړي.

په داخلي استیناف کې څه پیښیږي؟ ورمونټ روغتیایي پاملرنې پروګرام به د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره یوه غونډه جوړه کړي تر څو وکولای شي پر خپله پریکړه بیا کتنه وکړي. تاسو باید په دې غونډه کې ګډون وکړئ. تاسو کولای شئ د خپل ځان په استازیتوب خبرې وکړئ یا بل څوک ستاسو په استازیتوب خبرې وکړئ. ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی کولای شي د ورمونټ د روغتیایي پاملرنې خدمتونو سره خبرې وکړي یا هغوی ته معلومات ورکړي.

ورمونټ روغتیایي پاملرنې خدمتونه معمولا باید ستاسو د داخلي استیناف په اړه په 30 ورځو کې پریکړه وکړي. دا کېدای شي 14 ورځې نور وخت ونیسي، مګر دا یواځې په هغه صورت کې که امکان ولري چې ستاسو سره مرسته وکړي (د بېلګه په توګه، ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی د معلوماتو د لیږ لپاره ډېر وخت ته اړتیا لري، یا تاسو نه شئ کولای چې په اصلي ټاکل شوي وخت کې غونډې یا ملاقات ته لاسرسی ولرئ). د پرېکړې کولو لپاره به تر ټولو اوږد مهال 44 ورځې وي.

ایا تاسو له ورمونټ روغتیایي پاملرنې څخه غواړئ چې ستاسو د استیناف اړوند بېړنۍ پریکړه وکړي؟ که د پرېکړې لپاره انتظار ستاسو روغتیا یا ژوند ته جدي زیان رسوي، نو په دې اړه موږ ته ووایاست. که ورمونټ د روغتیایي پاملرنې خدماتي څانګه پریکړه وکړي چې تاسو د بېړنۍ استیناف لپاره وړ شخص یاست چې (د "چټک استیناف" په نوم یادیږي)، تاسو به په 72 ساعتونو کې پریکړه

ترلاسه کړئ. ستاسو سره د مرستې پر مهال کېدای شي ورمونټ د روغتیایي پاملرنې خدماتي څانګه د خپلې پرېکړې لپاره ډېر وخت واخلي. د بېړنې استینافي پرېکړې لپاره ترټولو اوږد مهال 17 ورځې وخت دی.

تاسو حق لرئ چې پوه شئ چې موږ څنګه ستاسو د استیناف په اړه پریکړه وکړه. تاسو کولی شئ هغه کاغذونه، قواعد او شواهد وګورئ چې موږ ورڅخه استفاده کړې. تاسو کولی شئ دا معلومه کړئ چې موږ څنګه پریکړه کړې، دا په هغه صورت کې چې تاسو یې غوښتنه کول چې له طبي پلوه اړین وه. تاسو کولی شئ د دې ټولو کاغذونو وړیا کاپي ترلاسه کړئ. د کاغذونو د کاپي غوښتلو لپاره، زموږ د پیرودونکو له خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ.

حقوقي مشورې یا نورې مرستې ته اړتیا لرئ؟ تاسو کولای شئ د ورمونټ له حقوقي مرستې څخه وړیا مرسته ترلاسه کړئ. د دوی د روغتیایي پاملرنې مدافع وکیل ته په 1-800-917-7787 شمېره تلیفون وکړئ. یا په انټرنټ کې د دوی ویبپاڼې https://vtlawhelp.org/ ته مراجعه وکړئ. فورمه ډکه کړئ

ایا د داخلي استیناف پریکړې سره موافق نه یاست؟ تاسو کولای شئ د دولتي عادلانه محکمې اوریدنې غوښتنه وکړئ.

د بشري خدمتونو په تشکیل کې د اوریدنې چارو اړوند مامور به ستاسو قضیه واوري. دوی به پریکړه وکړي چې آیا ورمونټ روغتیایي پاملرنې پروګرام سمه پریکړه کړې که څنګه.

په ډېرې مواردو کې، مخکې له دې چې تاسو د دولتي عادلانه اوریدنې غوښتنه وکړئ، تاسو باید د داخلي استیناف پروسه پای ته ورسوئ او دا پروسه (د "استقامت" په نوم یادیږي). مګر، که ورمونټ د روغتیایي پاملرنې خدماتي اداره ستاسو د داخلي استیناف د وروستۍ نیټې پورې پریکړه ونه کړي، تاسو کولای شئ پرته له دې چې پریکړې ته انتظار وکړئ د دولتي عادلانه اوریدنې غوښتنه وکړئ. که موږ له دې څخه ډېر وخت واخیست:

- د داخلي اپیل لپاره 30 ورځې یا
- 44 ورځې، دا په هغه صورت کې که تاسو یا موږ ستاسو سره د مرستې په خاطر د ډېر وخت غوښتنه وکړو
- که دا بېړنی استیناف وي، 72 ساعته یا
- د بېړنې استیناف لپاره، 17 ورځې وخت ونیسي، دا په هغه صورت کې که تاسو یا موږ ستاسو سره د مرستې په خاطر د ډېر وخت غوښتنه وکړو

تاسو 120 ورځې لرئ چې د دولتي عادلانه اوریدنې غوښتنه وکړئ. دا 120 ورځې له هغې نېټې څخه پیلیږي چې تاسو ته د داخلي استیناف اړوند پریکړه لیکل کېږي.

د دولتي عادلانه اوریدنې د غوښتنې لپاره 2 لارې شته:

- د پیرودونکو خدماتي مرکز ته په 1-800-250-8427 (TDD/TTY) 1-888-834-7898 شمېره زنګ ووهئ یا د بشري خدمتونو بورډ ته مستقیم ډول په 802-828-2536 شمېره تلیفون وکړئ.
- د بریښنالیک له لارې - یو لیک واستوئ:

Human Services Board
14-16 Baldwin St., 2nd Floor
Montpelier, VT 05633-4301

په لیک کې، خپل نوم، د زیږون نیټه، او د تلیفون شمیره ولیکئ. هغه څه روښانه کړئ چې تاسو یې غوښتنه کوئ، په شمول د دې چې کوم خدمتونه دې چې تاسو یې غوښتنه کړې او یا له تاسو څخه ګرځول شوي دي.

ایا موږ د روغتیایي پاملرنې هغه خدمتونه چې تاسو وړاندې ترلاسه کول کم کړي یا بند کړي دي. تاسو کولی شئ خپل خدمتونه د خپل دولتي عادلانه اوریدنې پر مهال جاري وساتئ. مګر تاسو باید د داخلي استیناف پریکړې څخه د 11 ورځو په ترڅ کې د استیناف غوښتنه وکړئ. تاسو باید د داخلي استیناف پرېکړې ته د انتظار پر مهال بیاځلي دا غوښتنه وکړئ آن که تاسو د ورمونټ روغتیایي پاملرنې له خدماتي اداري څخه غوښتني هم وي چې باید ستاسو خدمتونه همداسې جاري وساتي. دا 11 ورځې له هغې نیټې څخه پیلیږي چې ورمونټ د روغتیایي پاملرنې خدماتي اداري تاسو ته د داخلي استیناف پریکړه لیږلې وي. موږ دې ته "د امتیازاتو دوام" وایو. (لاندې سرلیک وګورئ، د امتیازاتو دوام - نور هغه څه چې تاسو باید ورباندې پوه شئ - (وړتیا او خدمتونه).

د خپلو خدمتونو ترلاسه کولو ته دوام ورکولو لپاره، دا غوره ده چې د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ.

کله چې تاسو د دولتي عادلانه اوریدنې غوښتنه وکړئ، نو څه پیښیږي؟ تاسو به د بشري خدمتونو بورډ څخه یو لیک ترلاسه کړئ. د اوریدنې یو مامور چې ستاسو قضیه به اوري د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره به یوه غونډه جوړه کړي تر څو پریکړه وکړي چې ایا ورمونټ روغتیایي پاملرنې خدماتي اداري خو به کومه غلطي نه وي کړي. دا مهمه ده چې تاسو په دې غونډه کې ګډون وکړئ. تاسو کولای شئ د خپل ځان په استازیتوب خبرې وکړئ یا بل څوک ستاسو په استازیتوب خبرې وکړئ. ستاسو د خدماتي چارو چمتو کوونکی کولای شي د اوریدنې چارو اړوند مامور سره خبرې وکړي یا معلومات ورکړي.

ستاسو د دولتي عادلانه اوریدنې په اړه پریکړه کول به څومره وخت ونیسي؟ د بشري خدمتونو بورډ باید ستاسو قضیه له هغه نیټې څخه چې تاسو لومړی د داخلي استیناف غوښتنه کړې د 90 ورځو په ترڅ کې پریکړه وکړي. په دې کې هغه ورځې نه شمېرل کېږي چې تاسو د ورمونټ د روغتیایي پاملرنې د خدماتي اداري څخه د داخلي استیناف پریکړه ترلاسه کړې او وروسته مو د دولتي عادلانه اوریدنې غوښتنه کړې.

ایا تاسو بېړنۍ پریکړې ته اړتیا لرئ؟ که د پرېکړې لپاره انتظار ستاسو روغتیا یا ژوند ته جدي زیان رسوي، نو په دې اړه موږ ته وواياست. که تاسو د بېړنۍ دولتي عادلانه اوریدنې لپاره مستحق یاست (چې د "چټکې دولتي عادلانه اوریدنې" په نوم یادیږي)، تاسو به په 3 کاري ورځو کې پریکړه ترلاسه کړئ.

د امتیازاتو دوام - نور هغه څه چې تاسو باید ورباندې پوه شئ - (وړتیا او خدمتونه)

- که تاسو له خپل جیب څخه د خدمتونو لپاره پیسې ورکړې وي، موږ ممکن تاسو ته هغه پیسې بیرته درکړو چې تاسو تادیه کړې، دا په هغه صورت کې که د استیناف یا اوریدنې پریکړه ستاسو په ګټه وي.
- که موږ د دوامدار امتیازاتو لپاره پیسې تادیه کړې وي او د استیناف پرېکړه ستاسو پرضد وي، نو تاسو باید د هغه امتیازاتو لګښت ورکړئ چې د استیناف پرېکړې ته د انتظار په موده کې تاسو ترلاسه کړي وي.
- کله چې تاسو د داخلي استیناف یا د بهرنۍ عادلانه اوریدنې غوښتنه کوئ، تاسو کولای شئ په ورته وخت کې د امتیازاتو د دوام غوښتنه وکړئ.
- که ستاسو استیناف یا اوریدنه د داسې امتیازاتو په اړه وي چې په فدرالي یا دولتي قانون کې د بدلون له امله پای ته رسیدلي یا کم شوي وي، نو دا خدمتونه نور دوام نه شي کولای.

تاسو د استیناف په اړه قانوني مشورې یا نورې مرستې ته اړتیا لرئ؟

تاسو کولی شئ د ورمونټ له قانوني مرستې څخه وړیا مرسته ترلاسه کړئ. د دوی د روغتیایي پاملرنې مدافع وکیل ته په 1-800-917-7787 شمېره تلیفون وکړئ. یا په انټرنټ کې د دوی ویبپاڼې https://vtlawhelp.org/ ته مراجعه وکړئ. فورمه ډکه کړئ.

ستاسو د روغتیایي پاملرنې خدمتونو په اړه نور شکایتونه ـ تاسو کولای شئ شکایت ثبت کړئ

شکایت د هغو شیانو په اړه وي چې د استیناف وړ نه وي، لکه ستاسو د روغتیا پاملرنې چمتو کوونکي سره د لیدو ځای یا اسانتیا، د چمتو شوي روغتیایي پاملرنې خدمتونو کیفیت، یا له استفادې وروسته ستاسو حقونه زیامن شوي وي. تاسو کولای شئ هر وخت خپل شکایت ثبت کړئ. تاسو کولی شئ د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250- 8427 شمېره اړیکه ونیسئ او خپل شکایت ثبت کړئ.

که تاسو د خپل شکایت د ارزولو له پروسې څخه راضي نه یاست، نو څه کولای شئ؟ تاسو کولای شئ د شکایت بیاکتنې غوښتنه وکړئ. یو بې طرفه سړی به ستاسو شکایت بیاکتنه وکړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د شکایت پروسه په عادلانه توګه اداره شوې. د بیاکتنې پایلې به تاسې د یو لیک له لارې ترلاسه کړئ.

ایا مرستې ته اړتیا لرئ؟

د ورمونټ روغتیایي اتصال او د ګرین مونټین د روغتیایي پاملرنې پروګرام د پیرودونکو خدماتي مرکز
د ورمونټ روغتیایي اتصال او د ګرین ماونټین روغتیایي پاملرنې پروګرام د پیرودونکو خدماتي مرکز ستاسو سره د مرستې لپاره شته. دوی کولی شي ستاسو د پروګرام په اړه پوښتنو ته ځواب ووایي، تاسو سره ستاسو د PCP د انتخاب یا بدلولو په برخه کې مرسته وکړي او که تاسو د روغتیایي پاملرنې اړوند خدمتونو په ترلاسه کولو کې ستونزې لرئ، دوی به ستاسو سره مرسته وکړي.

د پیرودونکو د خدماتي مرکز د کارکوونکو سره کولای شئ د سهار له 8:00 بجو څخه د مازدیګر تر 5:00 بجو پورې، له دوشنبې څخه تر جمعې پورې پر دغه شمېرو تماس ونیسئ 1-800-250-8427 یا TDD 1-888-834-7898 (د رخصتۍ په ورځو کې خدماتي مرکز بند وي)

د تغیراتو اړوند د 10 ورځو په ترڅ کې د هر ډول بدلونونو په اړه راپور ورکړئ:

- ستاسو په عاید یا کورنۍ کې بدلون؛
- د پټې بدلون؛
- د ماشومانو زیږون یا پالل؛
- مرګونه؛ او
- بله روغتیایي بیمه چې تاسو یې ترلاسه کوئ.

د روغتیایي پاملرنې چارو مدافع دفتر (HCA)

د روغتیایي پاملرنې وکیل دفتر شته چې ستاسو سره د روغتیا پاملرنې یا ستاسو د امتیازاتو اړوند د ستونزو په حلولو کې مرسته کوي. د روغتیایي پاملرنې اړوند مدافع دفتر کولای شي ستاسو سره د شکایتونو، استیناف او عادلانه اوریدنې په چارو کې هم مرسته وکړي. تاسو کولای شئ د HCA دفتر ته په 1-800-917-7787 شمېره تلیفون وکړئ.

نور معلومات

موږ خوښ یو چې د پروګرام غړو ته زموږ د برنامو، خدمتونو او خدماتي چارو د چمتو کوونکو په اړه معلومات برابروو. په دې لارښود کتاب کې د شته معلوماتو ترڅنګ تاسو کولای شئ د پیرودونکو د خدماتي مرکز سره په 1-800-250-8427 شمېره اړیکه ونیسئ یا د اضافي معلوماتو یا پوښتنو لپاره www.dvha.vermont.gov ته مراجعه وکړئ.

نور پروګرامونه

د ماشومانو، لویانو او کورنیو لپاره نور پروګرامونه او خدمتونه هم شته. په دې خدمتونو کې د ترانسپورټ شمولیت ممکن په دې پورې اړه ولري چې تاسو په کوم پروګرام کې نومليکنه کوئ. د ترانسپورټ د وړتیا په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د پیرودونکو خدماتي مرکز ته زنګ ووهئ. په دې برنامو کې ځینې هغه یې اضافي شرایط لري. که تاسو پوښتنې لرئ یا غواړئ پوه شئ چې ایا تاسو د پروګرام وړ یاست، لاندې لیست شوي ځانګړي برنامې لپاره تلیفوني شمیرې ته زنګ ووهئ.

د لویانو د ورځې خدمتونه

د لویانو د ورځې خدمتونه یو لړ داسې خدمتونه وړاندې کوي تر څو د زړو لویانو او معلولینو سره مرسته وکړي چې په خپلو کورونو کې د امکان تر حده خپلواک پاتې شي. د لویانو د ورځې خدمتونه د ټولنې په کچه، د غیر استوګنې په ورځنیو مرکزونو کې چمتو کیږي چې یو خوندي او ملاتړی چاپیریال رامینځته کوي چې هلته خلک وکولای شي روغتیا او ټولنیزو خدمتونو ته لاسرسی ومومي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د معلولیت، عمر او خپلواک ژوند ځانګې (DAIL) ته په 241-2401 (802) شمېره تلیفون وکړئ یا https://asd.vermont.gov/services/adult-day-services ته مراجعه وکړئ.

د ملګرتیا خدماتي پروګرام

دا برنامه د معلولیت لرونکو لویانو لپاره د یو داسې ژوند ملاتړ کوي چې دوی پکې خپلواک وي او د ورځنې فعالیتونو د ترسره کولو پر مهال فزیکي مرستې ته اړتیا لري. ددې پروګرام ګډونوال د دوی د شخصي پاملرنې لپاره د خدمت ترسره کوونکي اشخاص ګوماري، روزنه ورکوي، نظارت او مهالویش یې ترسره کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د معیوبینو او ډېر عمر لرونکو اشخاصو اړوند ځانګې ته زنګ ووهئ https://asd.vermont.gov/services/attendant-services-program and Independent Living (DAIL) په 241-2401 (802) شمېره زنګ ووهئ یا https://asd.vermont.gov/services/attendant-services-program ته مراجعه وکړئ.

د ماشومانو د ادغام خدمتونه (CIS)

CIS د مېندوارو یا له زیږون وروسته میرمنو او له زیږون څخه تر شپږ کلنې پورې د ماشوم لرونکو کورنیو سره یوه مرستندویه سرچینه ده. دا ټیمونه په ټولنیزو کارنو او د کورنۍ د ملاتړ په چارو کې تخصص لري؛ لکه د مور/ماشوم روغتیا او پالنه؛ د ماشوم وده او ابتدایي مداخله؛ د ماشومتوب او کورنۍ رواني روغتیا؛ د ماشوم پاملرنه او نور ځانګړتیاوې (د بیلګې په توګه، تغذیه، وینا او د ژبې درملنه). د نورو معلوماتو لپاره، د ماشومانو او کورنیو د ماشومانو د پراختیایي ځانګې سره په 241-3110 (802) یا 800-649-2642-1 شمیره اړیکه ونیسئ یا https://dcf.vermont.gov/child-development/cis ته مراجعه وکړئ.

د ماشومانو د ادغام خدمتونه - لومړنۍ مداخله (CIS-EI)

دا یو د هغه ماشومام لپاره یو ځانګړی پروګرام دی چې له 3 کلونو څخه یې عمر کم وي او معیوبیت یا پرمختیایي ځنډ ولري. ماشومانو، کوچنیانو او کورنیو ته د ابتدایي مداخلې خدمتونه وړاندې کوي. د نورو معلوماتو لپاره، د ورمونټ کورنۍ شبکې ته په 4005-800-800-1 شمېره زنګ ووهئ.

د ماشومانو د شخصي پاملرنې خدمتونه

د ماشومانو د شخصي پاملرنې خدمتونه د ځانګړو روغتیایي اړتیاوو سره یوځای د ماشومانو لپاره د مستقیمي پاملرنې (CSHN) خدمتونه دي - دا خدمتونه د روغتیایي پاملرنې اړوند دي چې د 21 کلونو څخه کم عمر لرونکو اشخاصو لپاره برابرېږي چې د پام وړ، اوږدمهاله معلولیت یا داسې روغتیایی حالت سره مخ وي چې ددوی عمر ته په کتو پر دوی اغېزه کوي تر څو د ورځني ژوند د فعالیتونو د ترسره کولو وړتیا او پراختیا (ADL) ترلاسه کړي. د ماشومانو د شخصي پاملرنې خدمتونو (CPCS) هدف د ماشوم لپاره د شخصي پاملرنې سره یو ځای د اضافي مرستې چمتو کول دي. د نورو معلوماتو لپاره 4427-660-(800)-1 یا 7338-863-(802) شمېرې ته زنګ ووهئ یا لاندې پتې ته مراجعه وکړئ https://www.healthvermont.gov/children-youth-families/children-special-health-needs/personal-care-services .

هغه ماشومان چې ځانګړې روغتیایي اړتیاوې (CSHN) لرې کلینیکونه

دا برنامه د هغو ماشومانو لپاره چې ځانګړې روغتیایی اړتیاوې لري د کلینیکونو او د پاملرنې د همغږۍ خدمتونه وړاندې کوي. دوی د روغتیایي پاملرنې اړوند د ځینو لګښتونو په برخه کې هم مرسته کوي چې د روغتیایي بیمې یا ډاکټر ډیناسار لخوا پوښل شوي نه وي. د ورمونټ روغتیا ریاست ته په 4427-660-(800)-1 یا 7338-863-(802) شمېره زنګ ووهئ یا https://www.healthvermont.gov/family/special-health-needs ته مراجعه وکړئ.

د پاملرنې لپاره انتخابونه

د پاملرنې لپاره انتخابونه د پاملرنې اړوند یو اوږدمهاله پروګرام دی چې په ورمونټ پروګرام کې د شاملو زړو افرادو او فزیکي معلولیت لرونکو خلکو لپاره د پاملرنې او ملاتړ لپاره پیسې ورکوي. دا برنامه له خلکو سره په کور کې د دوی د ورځنیو فعالیتونو په چارو کې مرسته کوي، د استوګنې اړوند د پاملرنې په پرمختللو تنظیمي چارو او یا هم د نرسنګ په مرکزونو کې د دوی مرسته کوي. د خدماتي چارو چمتو کوونکي د لویانو د ورځنیو مرکزونو، د عمر اړوند ساحوي اداري چارو، د استوګنې په برخه کې د مرستې، د کورنۍ روغتیایی اداري، د نرسنګ اسانتیاوو او د استوګنې د پاملرنې کورونو په برخه کې خدمتونه وړاني کوي. د نورو معلوماتو لپاره، 0294-241 (802) شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه پتې ته مراجعه وکړئ https://asd.vermont.gov/services/choices-for-care-program .

د پرمختیایي معلولیت خدمتونه

د پرمختیایي معلولیت خدمتونه د هر عمر لرونکو هغه افرادو په حفاظت او ساتلو کې مرسته کوي چې پرمختیایي معلولیت لري او په کور کې د خپلو کورنیو سره ژوند کوي. په خدمتونو کې د قضیې مدیریت، د کارموندنې خدمتونه، ټولنیز ملاتړ او وقف شامل دي. د هغو خلکو لپاره چې خدمتونه پخپله اداره کوي، نو د خدمتونو وړاندې کوونکي باید د پرمختیایي خدماتي چارو چمتو کوونکي یا د منځګړیتوب خدمتونو سازمانونه وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د معلولیت، عمر او خپلواک ژوند څانګې (DAIL) ته په 0304-241 (802) شمېره تلیفون وکړئ یا دغه ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ https://ddsd.vermont.gov/.

د مالي مرستو پروګرام

دا یو داوطلبانه پروګرام دی چې کولای شي له کورنیو سره د خپل ماشوم د روغتیایي پاملرنې د بیمې وروسته لګښتونو په برخه کې مرسته وکړي، دا په هغه صورت کې چې خدمتونه د CSHN د کلینیکي برنامې له لارې وړاندیز شوي یا لا له وړاندې تصویب شوي وي. د ورمونټ د روغتیا ریاست ته په 4427-660-(800)-1 یا 7338-863-(802) شمېرې زنګ ووهئ یا دغه پتې ته مراجعه وکړئ https://www.healthvermont.gov/children-youth-families/children-special-health-needs/care-coordination.

د انعطاف وړ کورنۍ تمویل

د انعطاف وړ کورنۍ تمویل د هر عمر د خلکو لپاره دی چې یو پرمختیایي معلولیت لري او د کورنۍ سره ژوند کوي، یا د هغو کورنیو لپاره چې د پرمختیایي معلولیت لرونکي کورنۍ د غړي سره ژوند کوي او د هغه ملاتړ کوي. په دې پروګرام کې د کورنۍ د پاملرنې وړاندې کوونکي په توګه د ماشومانو او ډیرې لویانو لپاره چې پرمختیایی معلولیت لري خورا طبیعي او تغذیه کوونکي کورنۍ مرستې وړاندیز کوي. دا برابر شوي فنډونه کیدای

شي د کورنۍ په اختیار کې د انفرادي او کورنۍ د امتیازاتو لپاره د خدمتونو او ملاتړ لپاره وکارول شي. د خدماتي چارو چمتو کوونکي د پرمختیايي خدمتونو چمتو کوونکي اشخاص دي (ټاکل شوي اداري). د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د معلولیت، عمر او خپلواک ژوند (DAIL) پراختیايي خدمتونو څانګې ته په 241-0304 (802) شمېره زنګ ووهئ یا https://ddsd.vermont.gov/flexible-family-funding ته مراجعه وکړئ.

د عالي ټکنالوژۍ نرسنګ پاملرنه

د عالي ټکنالوژۍ نرسینګ پاملرنې برنامه د هغو خلکو لپاره د کور د نرسینګ یوه پراخه برنامه ده چې د ژوندي پاتې کیدو لپاره په ټکنالوژۍ تکیه کوي یا د پیچلو طبي شرایطو سره مخ وي. ددې پروګرام موخه داده چې د روغتون یا نورو اداری پاملرنې برخو څخه کور ته د لیږد ملاتړ وشي او په اداري واحد کې ددغه اشخاصو د ځای په ځای کیدو مخنیوی وشي. د 21 کالو څخه پورته خلکو لپاره د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د معلولیت، عمر او خپلواک ژوند څانګې (DAIL) ته په 241-0294 (802) شمېره زنګ ووهئ یا دغه ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ https://asd.vermont.gov/services/adult-high-technology-services.

د ماشومانو د عالي ټکنالوژۍ کور پاملرنې برنامه د 21 کلونو څخه د کم عمر لرونکو اشخاصو لپاره د ځانګړي روغتیايي اړتیاوو سره یوځای د ماشومانو لخوا نظارت کیږي. د معلوماتو لپاره 4427-660-(800)-1 یا 7338-863-(802) شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه پتې ته مراجعه وکړئ https://www.healthvermont.gov/children-youth-families/children-special-health-needs/high-tech-nursing .

د کور جوړوونکي خدمتونه

د ورمونټ کور جوړوني (هوم میکر) برنامه د 18 کالو څخه د ډېر عمر لرونکو معلولو اشخاصو سره مرسته کوي چې په کور کې د ژوند کولو لپاره شخصي اړتیاوې یا د کور کارونو په چارو کې مرستې ته اړتیا لري. په دې خدمتونو کې سودا کول، پاکول او جامو مینځل شامل دي. په دې خدمتونو کې د خلکو سره مرسته کېږي چې په صحي او خوندي چاپېریال کې په خپلواکه توګه په کور کې ژوند وکړي. د خدمتونو چمتو کوونکي د کور روغتیايي اداري دي. د نورو معلوماتو لپاره، د معلولیت، عمر او خپلواک ژوند څانګې (DAIL) ته په 241-294 (802) شمېره زنګ ووهئ یا https://asd.vermont.gov/tags/homemaker ته مراجعه وکړئ.

ځانګړي کلینیکونه

دا څو رشتوي، د ماشومانو کلینیکونه دي، چې د نرسنګ او طبي ټولنیزو کارمندانو لخوا اداره کیږي او وده ورکوي، د مستقیم خدمتونو یو جامع، د کورنۍ د تمرکز او د پاملرنې د همغږي سیستم رامینځته کوي. دا کلینیکونه د زړه د ناروغۍ په چارو کې تخصص لري؛ د ماشوم وده؛ کرینیوفاشیل / پرې شوي شونډې او تالو؛ د سږو ناروغي؛ میرګی/ عصبي ناروغي؛ روماتایډ د لاس او عضلاتو التهاب؛ میتابلزم؛ میلومننګوسل؛ د عضلاتو ډیسټروفي؛ ارتوپیدي؛ ریزوټومي او نور روغتیايي شرایط. د ورمونټ د روغتیا ریاست ته په 4343-464-(800)-1 یا 7200-863-(802) زنګ ووهئ یا www.healthvermont.gov ته مراجعه وکړئ.

ځانګړي خدمتونه

د CSHN نرسي یا طبي ټولنیز کارکوونکي چې د روغتیا ریاست په سیمه ایزو دفترونو کې میشت دي د CSHN مستقیمو خدماتي کلینیکونو له لارې فعالیت نه کوي چې د ځانګړي روغتیايي پاملرنې ته لاسرسي او همغږۍ په چارو کې مرسته کوي. د ورمونټ د روغتیا ریاست ته په 4343-464-(800)-1 یا 7200-863-(802) زنګ ووهئ یا www.healthvermont.gov ته مراجعه وکړئ.

په ورمونټ کې د اوریدني ابتدايي کشف او مداخلې پروګرام

د ورمونټ د ابتدايي اوریدني کشف او مداخلې پروګرام (VTEHDI) کورنیو او د دوی ماشومانو او د ټولنیزو خدماتي چارو چمتو کوونکو ته ملاتړ، روزنه او د پاملرنې مدیریت چارې چمتو کوي. دا شراکتونه د تشخیصي ازموینې او لومړني مداخلې خدمتونو لپاره پر وخت د معرفي کولو په برخه کې مرسته کوي. د دې هر یو پروګرام په اړه د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ 0076-537-(800)-1 یا 1872-651-(802) شمېرې ته زنګ ووهئ یا https://www.healthvermont.gov/family/health-care/hearing-health ته مراجعه وکړئ.

روانی روغتیا

د ورمونټ ایالت په ټولو برخو کې د ټاکل شویو ادارو سره داسې قرارداد کوي تر څو اشخاصو او کورنیو ته د روانې روغتیایي خدمتونو داسې لړۍ چمتو کړي چې د لوړ عاطفي اضطراب، روانې ناروغۍ ، یا چلندي ستونزو په برخه کې چې ددوی ژوند یې ګډوډ کړی وي، مرسته وکړي. دا خدمتونه له یوې ادارې څخه بلې ادارې ته توپیر لري، مګر اصلي پروګرامونه په ټولو ټاکل شویو ادارو کې موجود دي. په هره ساحه کې د خدمتونو د ترلاسه کولو همغږي کوونکي د افرادو سره په ګډه کار کوي تر څو داسې پروګرامونه او خدمتونه وټاکي چې د انفرادي اړتیاوو د پوره کولو لپاره موجود وي. برسېره پردې، ټاکل شوې ادارې د اړتیا سره سم ډیرې دولتي خدمتونو ته لکه د جدي استوګنې پاملرنې خدمتونه، بېړني یا د روغتون بدلولو چارې او په روغتون کې د داخلي ناروغانو پاملرنې ته د لاسرسي خدمتونه چمتو کوي. د روانې روغتیا څانګې سره د تماس لپاره، 0090-241 (802) شمېرې ته زنګ ووهئ یا www.mentalhealth.vermont.gov ته مراجعه وکړئ.

د لویانو لپاره سراپا خدمتونه

دا برنامه هغه خدمتونه وړاندې کوي چې له ادارې څخه بلې ته توپیر لري، او د خدمتونو لپاره د انتظار لیستونه ډېر وي. په خدمتونو کې کیدای شي ارزونه، مشوره ورکول، د درملو نسخه او نظارت شامل وي، او همدارنګه د روانې روغتیا پاملرنې اړتیاوو سره یوځای د شپېتو او له دې څخه ډېرو خلکو لپاره خدمتونه پکې شامل وي. ځینې خدمتونه د شخصي خدماتي چارو د چمتو کوونکو له لارې وړاندې کېږي او ځینې اشخاص ممکن دوی ته راجع شي.

د ماشومانو، تنکیو ځوانانو او کورنۍ خدمتونه

دا پروګرام د درملنې داسې خدمتونه وړاندې کوي او د کورنیو ملاتړ کوي تر څو ماشومان او ځوانان د روانې روغتیایي مسایلو سره ژوند وکړي، زده کړه وکړي، او په خپل ښوونځي او ټولنه کې په سالم ډول وده وکړي. په دې خدمتونو کې تشخیص، د ناروغیو د مخنیوي خدمتونه، ټولنیز ملاتړ، درملنه، مشوره ورکول او د بحران سره مقابله کول شامل دي.

ټولنیزه بیا رغونه او درملنه

دا برنامه د ټولنې پر بنسټ روانې روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي تر څو افراد وکولای شي په خپلو ټولنو کې د کورنۍ، ملګرو او ګاونډیانو ترمینځ په بشپړه خپلواکۍ سره ژوند وکړي. د CRT جامع خدمتونه یوازې د هغو لویانو لپاره شته چې د تصدیق شوي داسې تشخیص له مخې چې اضافي معیارونه یې پوره وي د شدید او دوامداره روانې ناروغۍ سره مخ وي چې په دې کې د خدمتونو څخه استفاده او په روغتون کې د بستري کیدو مخینه، د معلولیت شدت او کاري نیمګړتیاوې شاملې دي.

بېړني خدمتونه

دا برنامه د اشخاصو، سازمانونو او ټولنو لپاره څلرویشت ساعته او د اونۍ په اوو ورځو کې دوامداره روانې روغتیا بېړني خدمتونه وړاندې کوي. په اړینو بېړنیو خدمتونو کې کیدای شي د تلیفون ملاتړ، مخامخ ارزونه، نورو ادارو ته راجع کول او مشوره ورکول شامل وي.

تروما ځپلي ذهني پروګرام

دا برنامه په ورمونټ پروګرام کې شاملو هغه کسانو سره مرسته کوي چې عمر یې 16 یا ډېر عمر لري او د متوسطې څخه تر شدیدې درجې پورې یې د ذهني تروما سره مخ وي. دا پروګرام په دې برخه کې مرسته کوي چې خلک له روغتوني او تاسیساتي چاپېریال څخه راوباسي او په ټولنه کې یې مېشت کړي او یا یې بېرته عادي حالت ته راوګرځوي. دا د بیارغونې او د انتخاب پر بنسټ یو پروګرام دی چې موخه یې د افرادو ملاتړ کول دي تر څو دوی په ښه توګه خپلواکي ترلاسه کړي او خپل کار ته په بیرته راستنیدو کې ددوی مرسته وکړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د معلولیت، عمر او خپلواک ژوند څانګې (DAIL) ته په 0294 -241 (802) شمېره زنګ ووهئ یا https://asd.vermont.gov/services/tbi-program ته مراجعه وکړئ.

د ښځو، تی خورو او ماشومانو پروګرام (WIC)

WIC د تغذیې یو پروګرام دی چې میندواره، یو ماشوم لرونکو ښځو، او تر 5 کلنۍ پورې د ماشوم روزونکو اشخاصو ته د صحي خوړو، د تغذیې د ښوونې او د شیدو د تغذیې د ملاتړ په برخه کې ددوی سره مرسته کوي. د

روغتیايي پاملرني په پروګرام کې هرڅوک د WIC برنامې لپاره مستحق دی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د WIC کې د انلاین درخواست کولو لپاره www.healthvermont.gov/family/wic ته مراجعه وکړئ یا VTWIC 855-11 پیغام واستوئ.

ستاسو په ټولنه کې د سرچینو په اړه د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ www.vermont211.org ته مراجعه وکړئ.

پاملرنه! که تاسو د ژبې په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ 1-800-250-8427 شمېرې ته زنګ ووهئ

Attention! Si vous avez besoin d’assistance dans votre langue, appelez le 1-800-250-8427

¡Atención! Si necesita ayuda en su idioma, por favor llame al 1-800-250-8427

Pažnja! Ako vam je potrebna pomoć na vašem jeziku, pozovite 1-800-250-8427

Ogow! Haddii aad u baahan tahay in lagugu caawiyo luqaddada, fadlan wac 1-800-250-8427

သတိပြုရန်! မိတ်ဆွေသည် သင့်ဘာသာစကားဖြင့် အကူအညီ လိုပါက၊ ကျေးဇူးပြုပြီး 1-800-250-8427 ကိုခေါ်ပါ။

ध्यान दिनुहोस्! तपाईंलाई आफ्नो भाषामा मद्दत चाहिएको छ भने कृपया 1-800-250-8427-मा फोन गर्नुहोस्।

Muhimu! Kama wahitaji usaidizi kwa lugha yako, tafadhali piga simu 1-800-250-8427